# بفه مانسهره کښې د باچا خان لائبرېري

عمر فاروق / منتظم باچا خان لائبرېري بفه ضلع مانسهره

د باچا خان لائبرېرۍ بفه مانسهره ابتداء جنوري ۲۰۰۷ء کښې وشوه. زما د لائبرېرۍ پروګرام څۀ د پنځو کالو نه شروع ؤ، اخر دې ته عملي شکل ورکولو کښې زما دوه ملګرو او مشرانو انجنئير عارف خان او اورنګ زېب خان ډېر داد او امداد وکړو. پنځو سوو کتابونو نه د لائبرېرۍ ابتداء وشوه. نن د الله پاک په فضل لائبرېرۍ کښې درې زره کتابونه موجود دي.

دې کښې د اهم اې پښتو، اردو، فنون لطيفه، تاريخ، مطالعۀ پاکستان، اکنامکس، سياسيات، انګرېزي، اليکټرانکس او دې سره سره د ميډيکل، طب هوميوپېتۍ نه علاوه د خلقو د دلچسپۍ هر قسمه کتابونه موجود دي. د لائبرېرۍ د قيام لوئې مقصد هغه طالبعلمانو سره امداد کول دي، څوک چې په بيعه کتاب نۀ شي اخستے. لائبرېري دې سره خصوصاً اهم اې امتحاناتو کښې ډېره مرسته کوي. د باچا خان د اصلاحي پروګرام اصلي مقصد په معاشره کښې د علم رڼا خورول وو هغوي به هر وخت د تعليم د حاصلولو ذکر کوو. زمونږ معاشره د باچا خان احسان منده ده چې هغوي دلته د بامقصده تعليم دپاره د ټولو نه اول د ازاد سکولونو بنياد کېښودو. پښتنو ته په دنيا کښې د خپل ژوند مقصد او مرام ته د رسېدو دپاره دې ازادو سکولونو يو انقلابي سوچ پېدا کړو. باچا خان نۀ يواځې په ګفتار بلکې په خپل کردار ثابته کړه چې د دنيا ترقي يافته قومونو سره به مونږ هله د سيالۍ قابل شو چې زمونږ په ذهنونو کښې د علم رڼا وي. افسوس چې مونږ لا تر اوسه پورې د خپل مرام او هدف نه لرې يُو. "باچا خان لائبرېري" هم دغه مقصد لرې چې د معاشرې هر وګړے د يو بامقصده او باوقاره ژوند خاوند وي. دې مقصد دپاره د تعليم د حصول نه بغېر بله لار نشته. په جديد تعليم کښې زمونږ د خلاصي لار ده. دغه د باچا خان مشن ؤ، چې د مخلوق خدمت د الله پاک خدمت دے. دغه د باچا خان د لائبرېرۍ د انتظاميې هم مقصد دے. تېرو دوه نيمو کالو نه لائبرېري د کرايې په عمارت کښې په کاميابۍ سره کار کوي. مستقبل کښې د لائبرېرۍ دپاره د خپل ذاتي او مستقل عمارت پروګرام شته چې دا لائبرېري به "د باچا خان ټرسټ" لاندې کار کوي. د لائبرېرۍ انتظاميې دا پروګرام جوړ کړے دے چې مستقبل کښې هاغه ذهين طالبعلمان څوک چې د تعليم اخراجات نۀ شي برداشت کولے، هغوي سره به هر قسم امداد کولے شي. په لائبرېرۍ کښې د فېکس، کمپيوټر، فوټو سټېټ سره سره د نورو تعليمي وسائلو پروګرام هم شته چې دا به طالبعلمانو ته هر وخت حاصل وي. د علاقې ټول خلق په دې لائبرېرۍ ډېر خوشحاله دي ځکه چې ټولو ته د دې نه فائده رسي.

د لائبرېرۍ انتظاميه د پښتو اکېډمۍ، د پښتو ادبي بورډ، باچا خان مرکز، خيبر ټي وي، ديار خان فاؤنډېشن ضلع صوابۍ او ادارۀ علم و ادب بفه سره سره د هغو شخصياتو هم ممنون ده چې د دوي په مرسته او تعاون لائبرېري دې ځائے ته راورسېده. د لائبرېرۍ انتظاميه هر چاته په دې کار خبر کښې د حصې اخستو دعوت ورکوي چې دا به د هغوي دپاره صدقه جاريه وي. لائبرېرۍ ته د هر قسمه کتابونو سره سره خصوصاً دا وخت د اهم اې اسلامياتو د کتابونو ضرورت دے.